مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

احسان‌الله اړينزی
۲۰۲۳/۰۷/۰۷

# نړيوالې ټولنې

## ۶۱ برخه

**ب– هغه نړيوالې ټولنې چې ځانګړې واکونه لري**

**- د ناپيیلو او پرمختيايي هېوادونو د علومو او ټکنالوژي مرکز Center for Science and Technology of the Non-Aligned and Other Developing Countries (NAM S and T Center):**
دا نړيوال تخصصی بنسټ د کال ۱۹۸۹ په اګست کې په نوي ډيلي (هند) کې، د هغه سپارښتونو له مخې جوړ شو چې د ناپيیلو هېوادونو يا NAM د مشرانو په ېنځمو، شپږمو، اوومو او اتمو غونډو کې شوې وې.
NAM S and T Center هڅه کوي چې د غرو هېوادونو تر منځ د ټکنالوژيکي پرمختګونو او ليږد آسانتياوې ډېرې کړي، ټکنالوژيکي متخصصينو ته تخصصي خدمات برابر کاندي او د خلکو په ژوندانه کې مثبت بدلونونه راولي.[1]
**۵ -- د اسلامي هېوادونو کنفرانس Organization for Islamic Conference (OIC)**
په اسلامي ځمکو او هېوادونو کې، د ۱۹ پېړی له دوهمې نيمايیځخه د ويښتيا او خوځيدايوهڅيه راغله چې مذهبي ايديالوژي پرې زورروه وه. ښکاره خبره ده چې په لويديځ کې اقتصادي او ټکنالوژيکي پرمختګونو، اسلامي هېوادونه له راز – راز ستونزو سره مخامخ او د دوي پخوانی برم ته د پای ټکی ايښی و. د شلمې پيړۍ په پيل کې د عثمانی ستروا‌کی اضمحلال، او د نويو اسلامی هيوادونو جوړيدو، د يوې اسلامی ټولنې د شتون غږ اوچت کړ.
د کال ۱۹۶۷ د هغه ۶ ورځني جګړې په پای کې، چې عربي هېوادونو پکې ماته وخوړه،او د عربی ټولنې نه برياليتوب عربي دولتونه دې ته اړ کړل، چې د خپلو خلکو د احساساتو د قابو کولو له پاره، د اسلامي کنفرانس جوړېدو ته متې ونغاړي. د کنفرانس د جوړيدوپه کار کی د سعودي، مصر (ناصريزم) او ايران جلا – جلا تګلارو، لږ ځنډ پيښ کړ؛ خو په کال ۱۹۶۹ کې، په الاقصی جومات باندې د اسراییلو برید، سعودي ته لار اواره کړه چې د صهيونيزم په ضد، د مسلمانانو له احساساتو څخه ګټه پورته او د اسلامي کنفرانس د جوړولو نوښت په لاس کې واخلي.
په هغه غونډه کې چې د همدې کال د سپتمبر په ۲۵، په رباط (مراکش) کې د اسلامي هېوادونو د مشرانو په ګډون جوړه شوه، په درېو خبرو بحث وشو: په الاقصی جومات برید چيبو وخت د مسلمانانو لومړني قبله وه، د اسراييلو له خوا د عربي ځمکو نيول او د بيت المقدس ښارګوټی برخليک. غونډې په عين وخت کې د اسلامي هېوادونو کنفرانس بنسټ هم کېښود .[2]
غړيتوب: ټول اسلامی هیوادونه او يا هغه هیوادونه چې ډیر خلک يې مسلمانان دی، کولای شی چې د دی ټولنې غړی شی. دا ټولنه اوس ۵۷ غړی لری چې په جغرافيايي لحاظ په پنځو ډلو ويشل شوی دی.
الف – اسيا: افغانستان، اذربايجان، اندونيزيا، ايران، برونی، بنګله ديش، پاکستان، تاجکستان، ترکمنستان، قرغزستان، ترکيه، ماليزيا او مالديپ. ټول ديارلس هيوادونه.
ب – افريقا: يوګندا، بورکينافاسو، توګو، چاد، تانزانيا، سنيګال، کامرون، کومورو، ګابون، ګمبيا، ګينی بيساو، مالی، موريتانيا، موزنبيق، نايجيراو نايجيريا. ټول اوولس هيوادونه.
ج – عرب لکه اردن، الجزاير، عربی متحده امارات، بحرين، تونس، جيبوتی، سودان، سوريه، سوماليا، عراق، سعودی، عمان، فلسطين، قطر، کويت، لبنان، ليبيا، مراکش، مصر، موريتانيا او يمن ټول يوويشت.
د – امريکا يو هيواد- سورينام.
ذ – اروپا يو هيواد – البانيا.
اهداف: OIC د دې له پاره جوړ شو چې د اسلامي هېوادونو تر منځ هر اړخيزه همکاري پياوړې کړي، بيت المقدس خونديي کړي او د فلسطين او نورو اسلامي هېوادونو د خپلواکۍ او برم په ساتلو کې مرسته وکړي. د اساسنامی له مخې د دی ټولنې اهداف دا دی:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزي بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

- د اسلامي هېوادونو د غړو اوچتول او د ګټو ساتنه، او د دې هېوادونو تر منځد ورورولي، همغږي او پیوستون پیاوړتیا،
- په اقتصادي، ټولنیزه، فرهنګی او علمي برخو کې د اسلامي هېوادونو تر مینځ د مشورو او ګډ کار ملاتړ،
- د هر راز نژادي تبعیض او استعمار پای ته رسول،
- د نړیوالي عادلانه سولې او امنیت د ټینګښت له پاره هڅې،
- د اسلامي سپېڅلو ځایونو د ساتنې له پاره ګډې هڅې او د فلسطینیانو د زمکو، حقونو او خپلواکئ ملاتړ،
- د اسلامي هېوادونو په مخکې د پرتو ستونزو د له منځه وړلو له پاره کار،
- د یو بل خپلواکي ته درناوی، د نورو په کورنیو چارو کې نه لاسوهنه او د اسلامي هېوادونو د ځمکنې بشپړتیا خوندیتوب،
- په نړیوالو سیاسي، اقتصادي او ټولنیزه پرېکړو کې د اسلامي هېوادونو د ونډې او برخې کلک ملاتړ،
- د ملګرو ملتونو له کړنلارو او نړیوالو قوانینو سره سم، د خلکو د حقوقو د ساتلو ټینګار،
- د اسلامي ګډ سوداګریز مارکیټ د جوړولو له پاره، د اسلامي هېوادونو د خپلمنځي اقتصاد او سوداګرئ پراختیا او غښتلي کول،
- د OIC د هر اړخیز او تلپاته بشري پرمختګ له پاره هلېځلې،
- -له رښتیني اسلامي دینځخه دفاع او د مذاهبو او تمدنونو د ډیالوګ د هڅونې له پاره، له دینځخه د ناوړو تعابیرو په ضد مبارزه،
- پهغړوهېوادونو کې د ساینس او تکنالوژۍ د خورولو هڅې.
- د OIC په کړنلاره کې راغلي چې غړي هېوادونه، دې اهدافو ته د رسېدو له پاره باید خپل کارونه داسې تنظیم کړي:
- د ملګرو ملتونو کړنلارې ته ژمنتیا،
- د حقوقو او وجایبو له پلوه خپلواکی او برابروالی،
- د خبرو د لارې د خپلمنځي ستونزو پای ته رسول او د زور له کارولو ځخه ډډه،
- یو د بل ملي حاکمیت، سیاسي خپلواکي او ځمکنی بشپړتیا ته درناوی او یو د بل په کورنیو چارو کې نه لاسوهنه،
- په ملي او نړیوالو برخو کې، د اغیزمنې حکومتولی، ولسواکئ، بشري حقونو، د قانون د واکمنۍ او پرمختګ پلویتوب او مبارزه.[3]

جوړښت: سرمشریزه، د بهرنیو چارو وزیرانو کنفرانس او دارالانشا د OIC اصلی اداره کوونکی ارګانونه دی.

سرمشریزه: د اسلامي هېوادونو د مشرانو غونډه چې هر درې کاله وروسته یوځل په عادی توګه، او د اسلامي نړئ د اړتیا له مخی په ځانګړي توګه، د یو غړي هېواد په پلازمینه کې جوړیږي. په دې غونډو کې په هغه نړیوالو بدلونونو بحث کیږي چې د اسلامي هېوادونو په ګټو اغیز ولري.

OIC له جوړېدوځخه تر ۲۰۲۰، پورې دا سرمشریزې جوړې کړې دي:

رباط ۱۹۶۹، لاهور ۱۹۷۴، طایف ۱۹۸۱، کازابلانکا ۱۹۸۴، کویټ ۱۹۸۷، ډاکه ۱۹۹۱، کازابلانکا ۱۹۹۴، تهران ۱۹۹۷، دوحه ۲۰۰۰، مالیزیا ۲۰۰۳.

د بهرنیو چارو د وزیرانو کنفرانس: د OIC د بهرنیو چارو وزیران په کال کې یو ځل؛ خو د اړتیا په وخت کې څو ځلې غونډې جوړوي. په لومړنیو عادي غونډو کې د بهرنیو چارو وزیران، هر کال د ولسمشریزو غونډو د تګلارو په رڼا کې، پرېکړې کوي او سرمنشي او دارالانشا ته دندې سپاري. دا وزیران کولای شي چې په نړیوالو چارو کې د خپلو دولتونو د غوره دریځ او د ملګرو ملتونو د عمومي ټولنې د غونډو د اجندا د څېړلو له پاره هم، همغه په نیویارک کې سره ووینې او ځانګړي غونډې جوړې کړي.

دارالانشا: دارالانشا یو سرمنشي، څلور مرستیالان او یو شمېر کارکوونکي لري. سرمنشي د ټولو هېوادونو د بهرنیو چارو وزیرانو له خوا د رایو په اکثریت ټاکل کېږي، ۴ کاله کار کوي او یوځلې بیا هم ټاکل کېدای شي. د سرمنشي څلور مرستیالان په سیاسي، فرهنګي، مالي او اداري څانګو کې، د سرمنشي په وړاندیز، د OIC د بهرنیو چارو وزیرانو له خوا د یوځل له پاره ټاکل کېږي. دارالانشا د ټولنی اداری چاری مخ ته وړی او د هغه پرېکړو د عملي کولو مسوولیت په غاړه لري، چې په سرمشریزه یا د بهرنیو چارو وزیرانو په غونډه کې شوې وي.

د OIC سرمنشي ۴ دنده لري چې:

- د OIC د سرمشریزو، د بهرنیو چارو یا نورو وزیرانو غونډې جوړې کړي، وړاندیزونه برابر کاندي او پرېکړو عملي کړي،
- د OIC کارونه همغږي کړي،
- د OIC بودجې جوړه کړي، منظوري واخلي او لګښتونه تنظیم کړي،
- د OIC د غړو هېوادونو تر منځ اړیکي ټینګي او پیاوړي او د سلامشوره لارې اوارې کړي،



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنېز بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

· غړو هېوادونو ته د OIC په هکله معلومات او اطلاعات ورسوي او د هغوی وړاندیزونه وګوري او وارزوي.
د OIC له جوړېدو څخه را پدیخوا، لاندي کسانو د دي ټولني د سرمنشي په توګه کار کړی:
۱۹۷۱ – ۱۹۷۳، تانګو عبدالرحمن د مالیزیا، ۱۹۷۴ – ۱۹۷۵، حسن التهامي د مصر، ۱۹۷۵ – ۱۹۷۹، داکتر عمادو کریمګای د سنیګال، ۱۹۷۹ – ۱۹۸۴، حبیب چاتی د تونس، ۱۹۸۵ – ۱۹۸۸، سید شریف الدین پیرزاده د پاکستان، ۱۹۸۹ – ۱۹۹۶، داکتر حمید الګابید د نایجیریا، ۱۹۹۷ – ۲۰۰۰، داکتر عزیزالدین لاراکي د مراکش، ۲۰۰۱ – ۲۰۰۴، داکتر عبدالوحید بیلکیزیز د مراکش، ۲۰۰۵ - ۲۰۱۰ او داکتر اکمال الدین احسان اوغلو د ترکیې .[4]
فعالیتونه: د ملګرو ملتونو ۵۷ غړی هیادونه، اسلامی ملکونه دی چی په اسیا، افریقا، امریکا او اروپا کی پراته دی او ټول د دی ټولنی غړیتوب لری. دا هیوادونه د زمکی، اوبو، نفوس او طبیعی شتمنیو ( لکه تیل او ګاز) له پلوه ډیر د پام وړ درېځ او څه باندی یونیم بلیون اوسیدونکی لری. داسی پراخه جغرافیه او ستر انسانی ظرفیت، OIC ته دا چانس ورکړی چی په نړئ کی، ښه درېځ او پیاوړی ونده ولری؛ خو زمکنی واقعیتونه داسی نه دی او دا ټولنه د دی ستونزو په توسن، تر اوسه سمه نه ده ځلیدلی:
· د OIC په کورنی جوړښت کی کمزورتیاوی او د غړو هیوادونو تر مسنځ ستونزی او لانجی،
· د ګډو او ورته ( مشابه) اقتصادی جوړښتونو شتون،
· د پریکړو د تطبیق له پاره د اجراییوی ضمانتونو نشتوالی،
· د OIC بیاجوړونی او د اهدافو نوی کیدن ته نه پاملرنه[5]
نړیواله اسلامي محکمه: دا محکمه په کال ۱۹۸۷ کې د OIC په پنځمه سرمشریزه(کویټ) کې جوړه شوه. په هغه غونډه کې د OIC د کړنلارې درېیمه ماده داسي بدله شوه چې نړیواله محکمه د دې ټولني د څلورم ارګان په توګه ومنل شوه.
محکمه ۷ قاضیان لري چې د OIC هېوادونو، د بهرنیو چارو وزیرانو له خوا د څلورو کلونو له پاره ټاکل کېږي او دنده لری چی د اسلامی احکامو او د دی ټولنی د اساسنامی مطابق پریکړی وکړی. دا محکمه تر اوسه پوری د OIC په اساسنامه کی، د متضادو د شتون په توسن نه ده جوړه شوی.
فرعي څانګي: د سوداګرئ د پراختیا اسلامي مرکز (مراکش)؛ د اسلامي تاریخ، کلتور او هنرونو د مطالعي او څېړني مرکز( ترکیه) او د تکنالوژی او علومو اسلامي موسسه ( بنګله دیش).
دایمی کمیټی: دا کمیتی د OIC د سرمشریزو او د بهرنیو چارو وزیرانو د پریکړو د عملی کړلړ د پاره جوړس شوی ، چی په دریو برخو ویشل کیږی: دایمی، لنډمهاله او ځانګړی.
دایمی کمیټی: د اطلاعاتی او فرهنګی ګډ کار کمیټه (سنیګال)، د بیت المقدس کمیټه (مراکش)، د اقتصادی او سوداګریز ګډ کار او مرستو کمیټه (ترکیه) او د علمی او تکنالوژیکی ګډ کار او مرستو کمیټه (پاکستان)، چی د OIC د اساسنامی د مخی جوړی شوی دی.
لنډمهاله کمیټی د OIC د بهرنیو چارو وزیرانو له خوا جوړیږی. لکه د جنوبی افریقا او نامیبیا کمیټه او د صحرا د خلکو سره د اسلامی پیوستون کمیټه، چی د کار د خلاصون وروسته بیرته ړنګیږی.
ځانګړی کمیټی لکه د افغانستان کمیټه او د فلسطین کمیټه[6]
تخصصي څانګي: دا ټولنه پنځه تخصصی کمیټی لری. اسلامي پراختیا بانک ( جده – سعودی)؛ علمي، فرهنګي او روزنیزه اسلامي ټولنه( جده – سعودی) ، د نړیوالو اسلامي خبري اژانسونو ټولنه ( جده – سعودی)،د اسلامی دولتونو خبری اژانس او د نړیوالی سری میاشتی اسلامی کمیټه.
وړې څانګي: چی د اسلامی هیادونو تر مینځ د ګډ کار او مرستو، د ډیریدو له پاره جوړیږی، لکه د اسلامي پلازمېنو او ښارونو ټولنه، د اسلامي بانکونو نړیوالهټولنه، د سوداګرئاو صنایعو نړیواله خونه، د اسلامی پیوستون فدراسیون، د اسلامی او عربی ښوونځیو نړیوال فدراسیون، د ځوانانو ټولنه، اسلامی هیوادونو ته د مشاورینو فدراسیون؛ د اسلامی علونو نړیواله اکاډمی، د اسلامی هیوادونو د ستندردونو جوړولو او مترولوژی انستتیوت؛ د مالیزیا، نایجیر او یوګندا پوهنتونونه او داسی نور.[7]

---

[1] سازمان پژوهش های علمي و صنعتي ایران، ویبپانه
[2] سازمان های بین المللی، داکتر محمد غفوری، ص ۳۶۱-۳۶۰
[3] نړیوال سازمانونه، محمد جعفر هاند، ص ۲۰۸-۲۰۷
[4] سازمان های بین المللی، داکتر محمد غفوری ، ص ۳۶۱-۳۶۰
[5] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد ، ص ۳۰۱-۳۰۰
[6] سازمان های بین المللی، محمد اکبر زاهد ، ص ۲۹۹-۲۹۷
[7] نړیوال سازمانونه، محمد نطیم سمون، ص ۲۴۲-۲۴۰


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيز بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ